پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۰۹/۰۲/۰۵م

# د ټولټاکنو ستونزی او دټیکاولارنقشې

( دوهمه برخه )

دومره خو بد نه وو , چا بد کړ راته
پرون هغه , او نن مودا نصیب دی

دګرانو لوستونکو دپام وړ : مخکې لدی نه چې ددی برخی په لیکلو لاس پوی کړم , ښه به داوی دتیری
لومړی برخی دپای ځوکړښي دلته راوړم څو دخبرو تړاو یو دبله سره له یاده و نه وځی :

د هیواد په دموکراتیک اساسی قانون کی دنورو ازادیو تر څنګ د اولسمشری او ملي شورا ازادی ټاکني هم دنوموړی قانون دلویو لاسته راوړنو څخه دی چې لدی لاری د اتباعو یو خورا مهم او په زړه پوری حق تامینیږی . داګړې د راتلونکي اولسمشر دپاره د ټولټاکنو موضوع په هیواد کی دننه د میډیا تر ټولوزیا ت د تودو بحثونو خبره ده اوهر شنونکې یې دخپل شخصی سیمپاتی او انتی پاتی په اندول څیړی .
دیو لړ قانونی معذرتونو , کاری نیمګړتیاوو او ځینو نورو تخنیکی او مالی ستونزو له کبله دټولټاکنو مستقل کمیسیون د م. م. او اړوندو نړیوالو ټولنو سره داړیکو نیولو وروسته وپتییل چې دا ټولټاکني دخپل ټاکلي وخت نه ځلور میاشتی وځندوی . دی خبر په اولسی جرګی او له هغی نه دباندی دیوشمیر کسانو په ځانګړې توګه د اوسني اولسمشر کرزی مخالفانو قهر او غوصه را وپارول . دوی وایی چې داکار د اساسی قانون د ٦١ مادی سره اړخ نه لګوی او ددغی مادی په ښکاره تر پښو لاندی کول دی .
که خبره یوازی دفورمالیتی له مخی د ٦١ مادی په تړاو وی نو دغه کسان رښتیا وایی ځکه هلته دنوموړی مادی په دویمه او دریمه فقرو ( برخو ) کی داسی راغلی دی :
,, دجمهور رئیس وظیفه تر انتخاباتو وروسته دینځم کال دغبرګولې په لومړی نیټه پای ته رسیږی . دجمهور رئیس د کار تر پای ته رسیدو دمخه د نوی جمهوررئیس د ټاکلو انتخابات له ۳۰ - ٦۰ ورځو پوری موده کی کیږی ,, .

خو دغو ښاغلو ته چې ددی مادی دوی اخیری فقری هرګړی د اولس , میډیا او کرزی مخ ته ایږدی او ګویا خپل منطق پری غښتلی کوی , پکار ده چې دهمدی مادی لومړۍ فقره هم په پام کی ونیسی , په خپل ګریوان کی وګوری , خدای ته مخ خلګو ته شا کړی , هغه په غور ولولي , دټولو هیوادوالو حقونه په نظر کی را وګرځوی او بیا خپل وجدان قاضی کړی او قضاوت وکړی . که ددوی نه دنوموړی فقری متن هیر یا ورک شوی وی , زه به یې ور پیاد کړم , هلته داسی راغلي دی :

,, ٦١ ماده - جمهور رئیس د رایی ورکوونکو د ازادو , عمومي , پټو , مستقیمو رایو د لاری . . . . انتخابیږی ,, .

دلوړی مادی پدغه برخه کی د ( عمومی ) او ( مسقیم ) ټکي چې د نورو ترڅنګ د دموکراتیک والي رڼې څرګندوني دی , دهیواد په اوسني حالت کی باید په ژوره توګه پام ورته واړول شی . دانتخاباتو دعمو مي والي مانا داده چې دولت باید ټولو هغو کسانو ته چې داسی قانون سره سم د رایی ورکولو حق لری او غواړی چې په رایی ګیریو کی ګډون وکړی , داسی سیاسی او امنیتی شرایط تامین کړی څو هغوی په ازاد ډول بیله سیاسی یا امنیتي ډار نه د رایی ورکولو مرکزونو ته لاړ او هلته دخپلي خوښی له مخی خپلي رایی وکاروی . که دولت په هره بهانه چې وی ددغی مادی دلومړی برخی شرایط دخپلو اتباعویوه غوښین اکثریت ته اماده نه کړای شی او په انتخاباتو لاس پوری کړی , داپخپله بیله دی چې دمادی دوو نورو برخوته را واړو , داساسی قانون نقض او تر پښو لاندی کول دی . داځکه چې داډول انتخاب نیمګړې او عمومی ندی . دا ددولت مکلفیت دی چې ترنوم لیکلو او انتخاباتی حوزو جوړولو وراندی د امنیت له پلوه ډاډ من امنیتي شرایط تامین کړی . باید وویل شی د دولت دری ګونی قواوی پدی هلکه ګډ مسئولیت لری چې باید سرته یې ورسوی .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د مستقیمو انتخاباتو مانا بیا داده چی باید هر رایه ورکونکی پخپله انتخاباتی حوزی ته ولاړ او دخپلي خوښي نفرته شخصاً رایه ورکړی , نه دکوم بل چا پلاس او استازیتوب . ددغه کار تنظیم او کنترول د انتخاباتو د مستقل کمیسیون دنده ده چی باید دمخنیوی لاری چاری یی وسنجوی .

پدی توګه په حقوقی لحاظ داساسی قانون اوهر بل قانون ټولي مادی او دهری مادی ټولي فقری یا برخی د یوه زنځیر کړی دی او دیوبل سره تړاو لری . دهری کړی ماتول د زنځیر ماتول دی که دیو مادی یا فقری په نقض سره ځینی کسان زیان مومی , همدارنګه یی دبلي مادی یا فقری دنقض له مخی بیا ځیني نورکسان زیانمن کیږی . له همدغه ځایه ده چی باید د دموکراسی اصول چی د یوبل دحقونو درناوی دی , په پام کی ونیول شی . عینی قضاوت غوښتنه کوی چی که د یوی مادی د نه عملي کولو لامل د وطن داوسني حالت بحران بولو , نو همدغه عینی مشکل باید دکومي بلي مادی دنه عملي کولو په اړه هم عیني وګڼل شی .

د بیلګی په ډول راشي وګورو د اساسی قانون څومره مادی ددغی اوسنۍ غمیزی اوځینونورو عینی او ذهنی ستونزو لامله عملي شوی ندی :

۱ - دیڼځمی مادی په یوی برخی کی راغلي دی : ( دهیواد د امنیت تامین د دولت له اساسی وظایفو څخه ګڼل کیږی ) . دلته عینی واقعیت دادی چی نه یوازی دولت بلکه داګړی په هیواد کی میشت د ځلویښتو نه زیاتو پرمختللو هیوادونو نژدی ۷۰ زره کسیز ترغاښو په پرمختللو وسلو سنبال پوځ چی ډیر ژر به یی شمیریو لک ته ورسیږی , هم د داړمن امنیت په تامینولو توانیدلي ندی . دغی نیمګړتیا بیا پخپل وار دیو لړ نورو مادو دعملي کولو چاری هم ستونزمنی کړیدی .

۲ - د شپږمی مادی یوه برخه داسی وایی : ( دولت دهیوادپه ټولو سیمو کی دمتوازني پرمختیا او ټولنیز عدالت پربنسټ د یوی هوسا او پرمختللي ټولني په جوړولو مکلف دی ) . د لوړی ستونزی له مخی دولت پدی توانیدلي ندی چی ان دهیوا د د جنوبي او ختیځو ولایتونو په زیاتو سیمو کی خپل یو مامور هم مقرر کړی , نو دهوسا ټولني او ټولنیز عدالت چاری به هلته څوک تر سره کړی ؟ .

۳ - دری دیرشمه ماده به په غور سره ولولو : ( دافغانستان اتباع دانتخابولو اوانتخابیدلو حق لری . له دی حق څخه دګټي اخیستلو شرایط او لاری د قانون له لیاری تنظیمیږی ) . ایا دهیواد په څومره سیمو کی خلګ لدغه حق نه جبراً محروم پاته دی او لازم شرایط ورته څوک تامینولای نشي؟

٤ - ۳۸ ماده به وګورو : ( د شخص استوګنځی له تیری څخه خوندی دی ) . ایا دهیواد په هرګوټ کی هره شپه پردی وسلوال کسان په خپل سر دخلګو په کورو کی بیله قانوني جواز نه تلاښی نه کوی ؟ د کوم خوندیتوب خبره دلته یادیدلای شی ؟

٥ - ٤۳ ماده به هم نه هیروو : ( زده کړه دافغانستان د ټولو اتباعو حق دی . دولت مکلف دی په ټول افغانستا ن کی دمتوازن معارف دعامولو او دمنځنیو زده کړو دتامین لپاره اغیزمن پروګرام طرح او تطبیق کړی . . . . . ) . د پوهني وزارت د احصاییی له مخی داګړی دهیواد په جنوبی او ختیځو برخو کی ۷۰۰ ښوونځی د زده کوونکو پرمخ تړلي , وران یا سوزیدلي دی . چیری دی دلته هغه متوازن معا رف چی اساسی قانون پری ټازیږی ؟ ولی هیڅوک په متحده جبهه کی ددی مادی دنقض او نه عملي کولو په هکله شکایت اوتشویش نکوی ؟ داځکه چی د دوی شخصی ګټي ددی مادی دنقض سره تړاو نلری .

٦ - د ۸۳ مادی په یوی برخي راغلي دی : ( دانتخاباتو په قانون کی باید داسی تدابیر ونیول شی چی انتخاباتی نظام د افغانستان د ټولو خلګو دپاره عمومی اوعادلانه استازیتوب تامین کړی . . . . . ) . کله چی د هیواد په میلیونو وګړی په انتخاباتو کی د ګډون دپاره امنیتي لازم شرایط نلری , بیا به نو د ټولو خلګو دپاره دعمومی اوعادلانه استازیتوب خبره څنګه پرخوله راوړو ؟ ولي هغو ښاغلو داساسی قانون دا ماده له یاده ایستلي ده او هیڅکله یی یادوونه هم نکوی ؟

دلوړو ستونزو او حقوقی څرګندونو په نظر کی نیولو سره زما په اند نه یوازی د ټولټاکنو دنیټي ځنډول داساسی قانون د موادو سره ټوپیرلری , بلکه پدغو نا امنو شرایطو کی یی ترسره کول هم د اساسی قانون داړوندومادو تر پښو لاندی کول دی . داځکه چی دا ډول انتخابات بیا نیمګړی اولکه اساسی قانون چی ټینګار ورباندی کوی , عمومی ګڼل کیدلای نشی . لدی نه پرته ددغه ځلور میاشتني ځنډ وروسته هم له بده مرغه دامنیت په چارو کی دڅرګند ښه والي وړاندوینه ناممکنه ښکاری او هغه وخت به هم ټولټاکني که ترسره شی نو نیمګړی به وی . اوس پکارده یوچاره وسنجول شی او د ستونزی د حل یوه مناسبه لاره پیداشی .

زما په فکر کیدلای شی دغه ډول دحل لاره په هغو لارنقشو کی ولټول شی چی تر اوسه پوری د اړوندو کارپوهاو لخوا وړاندی شویدی . څو میاشتی پخوا دمحترم وحید وحیدالله لخوا یوه لارنقشه وړاندی شوه چی په هکله


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

یی دتصویری , صوتی او لیکنیزو رسنیو په مټ پوره معلومات خپاره او اورډه بحثونه پری ترسره شول , ځکه یی نو په اړه دلازیاتو څرګندونو اړتیا نه وینم .

څو ورځی مخکی می دافغان - جرمن انلاین په پورتال کی سترګی پر یوی بلې نوی لارنقشې ولګیدی چی دپیژندل شوی حقوق پوه او سیاستوال محترم روستار تره کی په زوروړقلم د ( د سولې په لور لار نقشه ) تر سرلیک لاندی خپره شوی وه . محترم تره کی په ډیر زړه سوې سره پردی طرح باندی کار کړی او دیوه ډاډمن ټیکاو راوستلو په موخه یی د پرتې ستونزی بیلابیل اړخونه په ډیر غورسره څیړلې دی چی مینه وال یی بشپړ متن په نوموړی سایت کی لوستلای شی . ده هم پدغو نا امنو جګړه ایزو شرایطو کی دعمومی عادلانه ټولټاکنو ترسره کول یو ناشونی کار بللې او په لارنقشه کی یی د وړاندیز اصلې بنسټ د یوه انتقالي پړاو دلاری د امنیت ټینګښت او سیاسی ټیکاو ته رسیدل دی . هیر دی نه وی چی په ۲۰۰۳ کال کی بن دکنفرانس له مخی دانتقالي حکومت موخه و دموکراتیک منتخب دولت او پارلمان ته اوښتل وو نه سوله ایز ژوند او سیاسی ټیکاو ته , ځکه نو دبن دکنفرانس یوه لویه نیمګړتیا همدغه تکی ګڼل کیږی چی پر خپل وخت یی ورته پام اړولې نه وو . استاد تره کی دانتقالي پړاو دبریالي پایلو لاری چاری هم هلته په ګوته کړی او ګام پګام یی دپړاو دندی راسپړلې دی . پدی کار کی دده ځیرتوب او خواخوږی دستاینی وړ بولم . ده په خپل وړاندیز کی د اړوندو کارپوهانو لخوا د لازیاتو څیړنو , بشپړولو او دقیق کولو په هیله دروازی پرانیستې پری ایښی دی .

زما په اند دده د وړاندی شوی لارنقشې دریمه برخه چی دافغانستان په اړه د م. م. تر څارنې لاندی دیوه نوی کنفرانس جوړیدل دی , ډیره په زړه پوری او د ژور غور وړ ده . که څه هم دکنفرانس دندی ده په کلې اوټولیز ډول ښودلې دی , خو زه فکر کوم ولانور غور , دقت او روڼ والې ته اړتیا لری . د بن دکنفرانس په هکله خو پدی اړه دقیق کار ترسره شوی وو , مګر داچی دا کار دیواړخیز لیدلوری له مخی سرته رسیدلې وو , دهیواد تاریخی او ټولنیز واقعیتونه , دسیاسی ډلو انډول او دحالاتو وروستی احتمالې انکشافات یا قصداً اویاهم په ناپامی سره په پام کی نیول شوی نه وه , نو نه داچی د اوسنې ناورین د راپیښیدو دمخنیوې جوګه نشو بلکه تر لویی کچی یی د رامنځته کیدو لامل هم وګرځید . کیدلای شی دتیرو تیروتنو څخه دلته مثبته ګټه واخیستل شی . زه پخپله پدی باوریم چی دبن کنفرانس دنظام په جوړولو کی ټاکلی رول ولوباوه خو داچی دسولې او ثبات په کار کی پاته راغی , نو د استاد تره کی لخوا د وړاندیز شوی نوی کنفرانس اساسی دندی باید دسولې په ټینګښت او دیوه پراخ مارشال پلان پر بنسټ د بیا رغونې او اقتصادی پرمختیا پر محور را تاو شی .

بل مشکل چی پدی لاره کی تر سترګو کیږی هغه دمسئلې د حقوقی لاسوند اړخ دی چی تره کی صاحب په څرګند ډول په ګوته کړی ندی . داچی دانقلابونو دلاری بدلونونه اوس په نړیواله کچه له موده لویدلې دی , نو باید و دی موخی ته د رسیدو دپاره یوه قانونی لاره پیداشې . زما په اند که دبحران څخه د وتلو په اړه د ټولو سیاسی ډلو سره نیک نظر او دهیواد ملی لوړوګټو دترلاسه کولو په هیله ټینګه سیاسی اراده شتون ولری , پدی اړوند پخپله په اساسی قانون کی دغه لاره شته او هغه ۱٤۳ ماده . هلته داسی راغلې دی :

( ۱٤۳ ماده : که دجګړې , دجګړې دخطر ,وخیم اغتشاش او طبعی افاتو او یا ورته حالت له امله دخپلواکی او ملی ژوند ساتنه په هغه طریقه چی په اساسی قانون کی ټاکل شوی , ناشونې وګرځی , دجمهور رئیس لخوا دملی شورا په تائید دهیواد په ټولو او یاځینو برخو کی اضطراری حالت اعلانیږی . که اضطراری حالت تر دوو میاشتو زیات دوام ومومې , داوږدولو دپاره یی دملې شورا موافقه شرط ده . ) .

ملی ژوند چی په دری متن کی ( حیات ملی ) یادشویدی او د اساسی قانون پنځمه , ٦ , ۳۸ , ٤۳ ٦۱ , ۸۳ او نوری ډیری مادی یی دنورمال مخته بیولو اساسی برخی دی , اوس په افغانستان کی دهمدغه غمجن حالت له مخی په هغه طریقه چی داساسی قانون په نوموړو مادو کی ټاکل شوی , ناشونی ګرځیدلې دی . ځکه چی امن نشته اوداساسی قانون د ۳۳ مادی پربنسټ دهیواد ټول اتباع دانتخابولو او انتخابیدلوحق د ٦۱ مادی سره سم ( عمومی انتخابات ) ترلاسه کولای نشی . البته دملی شوراغړی که ځانونه دملت ریښتینې استازی بولی , نو دهغوی دملی ژوند هغو ستونزو او کړاوونو ته باید پام واړوی او پری نږدی چی یوازی دکرزی سره ددوی دسیاسی مخالفت له کبله هیواد او هیوادوال لا نورهم داور په لمبو کی وسوزی . دوی ته ښایی نوره بیځایه لجبازی او زور ازمایل پریږدی , پدی اړه د وطنپالنې خپله دنده ترسره او دیوی مناسبی لارنقشی دپاره لاره خلاصه کړی .
ومن الله توفیق .

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de